نورمحمد لاهو ۲۰۲۱/۰۷/۰۱

د زرو سره دوړه

تنکی پل دې چې کوم ځای کې زرغونیږي
هلته ونې له یوې مخې په خپله ګلپوش کیږي
آن ازغي هم له سره رنګه ځانته اوبي
کمیسونه
ته چې هرچیرته اوسیږې
هلته کال ټول دولس میاشتې پسرلی وي
په باران دې چې پرولیو عطر راشي
په بازار کې د ګلونو دوکانونه تړل کیږي
ته چې هرچیرته اوسیږې
هلته کاڼي هم د سیند په ځیر صفا سندرې بولي
او سپوږمۍ تا ته چمبه کې د واه، واه سندرې بولي
کروندو کې د غنمو طلایي ډوډۍ شنې کیږي
ته چې مازې راښکاره شې
طاووسان درپسې الوزي له ځالو
مجنون بید دې شنه قامت ته چترۍ کیږي
وحشي ونې د زیتونو
ستا لیدوته مرغۍ کیږي
چې په لاره یې روانه
د زعفرانو او منو له خواره بوی سره یو ځای هم

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

څو هوسۍ لکه مَېېنې لیلاګانې درپسې وي

نیلوفر او آیینې واړه حیرانې درپسې وي

مسته غېږه لږه خلاصه لکه لمر کړه

د انځر نارنجي څانګې

ستا د غېږې په تودوخې زرغونېږي

*****

یوه ښکلې معجزه یې

حتی ستا د قامت سیوری هم تک سپین دی

د رڼا په څیر په ځمکه درڅښېږي

ستا د زلفو په شنه سیوري

په ویالو کې د اوبو تنده سړېږي

چې کوم څیز ته ګوتې وروړې

که اوبه وي په شرابو

که جامد وي په الماسو رابدلېږي

که غبار وي

یوه سره دوړه د زرو ترې جوړېږي

ته چې هرچیرته اوسېږې

د انارو مستې پیغلې

ستا ماشومې سپینې خولې ته

له یاقوتو تکې سرې شیدې رالوشي

او سپوږمۍ هم خپل ښایست ته

ستا له خولې شیدې رالوشي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ